سے شروع ہوئے اور بس پر حملے کے بعد قصہ خوانی بازار میں جاکر وہاں بھی خون کی ہولی کھیلی گئی جس کی ہم سب اور یہ پورا ایوان اور یہ حکومت پر زور مذمت کرتے ہیں۔ جناب سپیکر، قابل غور بات یہ ہے، کل ہمارے بھائیوں نے اس پر بڑی تفصیل سے باتیں کیں اور یہ ایک ایسی تصویر، ایک ایسی Picture paint کرنے کی کوشش کی گئی یہاں پر کہ جیسے یہ سب موجودہ حکومت کا قصور ہے، تحریک انصاف کا قصور ہے، تحریک انصاف کی قیادت کا قصور ہے، میں یہ سمجھتا ہوں کہ یہ وقت ایک ایسی مشکل گھڑی تھی اس صوبے کے اوپر جبکہ ہمارے صوبے کے لوگ لاشیں اٹھا رہے تھے اور بجائے اس کے کہ یہاں پر ہم اتحاد کا، Unity کا مظاہرہ کرتے اور اس ایوان سے ایک ایسا میسج پاکستان اور اسلام کے دشمنوں کو بھیجتے کہ تم جو مرضی ہے کرلو، ہم سب خواہ اپوزیشن میں ہیں یا حکومت میں ہیں We all are united لیکن Unfortunately یہاں جو کل ہوا اور پوری دنیا نے دیکھا، یہ انتہائی افسوسناک تھا کہ جس مقصد کیلئے یہ اجلاس بلایا گیا تھا، ہم نے وہ مقصد چھوڑ دیا اور ایک دوسرے پر ہم نے حملے کرنے شروع کر دیئے۔ ابھی میرے بزرگ مولانا صاحب نے بہت خوبصورت بات کی، میں یہ سمجھتا ہوں کہ جو ہمارا مؤقف تھا، آج جے یو آئی کے ایک آنریبل ممبر نے بھی اس مؤقف کی تصدیق کر دی، ہم یہ سمجھتے ہیں، یہ اس کی ٹائمنگ دیکھیں جناب سپیکر، ایک ایسے وقت میں یہ دھماکے کئے جا رہے ہیں جب پاکستان کی تمام سیاسی جماعتیں ایک پلیٹ فارم پر بیٹھ گئیں، یہاں جتنے میرے یہ دوست بیٹھے ہوئے ہیں، ان سب کی جماعتوں کے قائدین نے اس پر دستخط کئے کہ یہ Peace process شروع کیا جائے اور کیوں نہیں کر سکتے؟ اگر امریکہ افغانستان میں طالبان سے مذاکرات کر سکتا ہے تو ہم پاکستانی پاکستان میں طالبان سے مذاکرات کیوں نہیں کر سکتے؟ (تالیاں) آٹھ دس سال کی اس طویل جنگ میں سوائے ہمیں لاشوں کے تحفوں کے کیا دیا گیا، کونسی جنگ کو ہم ختم کر سکے، کونسا راستہ ہمارے پاس باقی رہ گیا تھا؟ دو ہی راستے ہوتے ہیں جناب، ایک تو وہی راستہ ہے جس پر چل رہے ہیں، ہم ان کے ساتھ لڑتے ہیں، وہ ہمیں مارتے ہیں اور ہماری فوج انہیں مارتی رہتی ہے، یا دوسرا راستہ جو پوری قوم کے منتخب نمائندوں نے، تمام سیاسی جماعتوں نے اور ہمارے لیڈر عمران خان تو شروع دن سے یہ کہہ رہے ہیں کہ اگر ہم نے اس ایشو کو Resolve کرنا ہے تو یہ کوشش کرنے میں حرج کیا ہے، کس بات کا حرج ہے کہ ہم ان کے ساتھ ایک ٹیبل پر کیوں نہیں بیٹھ سکتے؟

اور اس کیلئے یہ ساری پارٹیوں نے اجتماعی فیصلہ کیا اور میں سمجھتا ہوں کہ اگر ان مذاکرات میں ہم کامیاب ہو جاتے ہیں تو ہم اس صوبے میں نہیں بلکہ اس پورے خطے میں، پورے پاکستان میں ہم امن قائم کرنے میں کامیاب ہو سکتے ہیں لیکن جناب والا، میں ٹائمنگ کی بات کر رہا تھا کہ یہ دھماکے ایسے وقت میں کئے گئے، مولانا صاحب نے بہت صحیح کہا کہ جو دھماکہ طالبان کرتے ہیں، اس کی ذمہ داری قبول کرتے ہیں، ہماری سیاسی قیادتیں اتنی نااہل نہیں ہیں یا حکومتیں اتنی نااہل نہیں ہیں کہ انہوں نے ویسے ہی ٹیبل پر بیٹھ کر دستخط کر دیئے، انہیں طالبان کی طرف سے مثبت اشارے ضرور ملے ہونگے، اس کانفرنس کے انعقاد سے پہلے، تب بیٹھ کے ان سب نے یہ فیصلہ کیا کہ ہم ان کے ساتھ مذاکرات کے ٹیبل پر بیٹھتے ہیں اور وہ قوتیں جو خود تو مذاکرات کرتی ہیں لیکن ہمیں مذاکرات سے روکا جاتا ہے، یہ دھماکے ایسے وقت میں کرنا جب پاکستان کا وزیر اعظم United Nations میں خطاب کرنے کیلئے جاتا ہے اور اسی اے پی سی کا مینڈیٹ لیکر جاتا ہے، انہی ڈرون حملوں کے خلاف بات کرنے کیلئے جاتا ہے اور یہاں سے یہ میسج دیا جا رہا ہے، یہ تین دھماکے کر کے کہ نہیں جی، ڈرون اٹیک ٹھیک ہو رہے ہیں، جو پالیسی وہاں سے آ رہی ہے، وہ ٹھیک ہو رہی ہے، ہماری اے پی سی، ہماری لیڈر شپ، ہمارے لوگ غلط بات کر رہے ہیں تو یہ جناب والا، روز روشن کی طرح عیاں ہے کہ یہ دھماکے جنہوں نے بھی کروائے، وہ نہ پاکستان کے مخلص ہیں، نہ اسلام کے مخلص ہیں، یہ وہ لوگ ہیں جو پاکستان کو Destabilize کرنا چاہتے ہیں اور جن کو ہماری نیوکلیئر پاور ہونے سے تکلیف ہے جو یہ نہیں چاہتے کہ ہمارے ساتھ یہ میزائل ٹیکنالوجی رہے، جو ہمارے ٹکڑے کرنا چاہتے ہیں جناب والا! لیکن ان کی یہ غلط فہمی ہے، یہ قوم جس دن اکٹھی ہو کے کھڑی ہو گئی، کیا مجال ہے؟ میں اکثر یہ بات کرتا ہوں کہ امریکہ کو جرات نہیں ہوتی کہ ایران کے خلاف کوئی بات کرے، امریکہ کو جرات نہیں ہوتی کہ وہ ساؤتھ کوریا کے خلاف کوئی بات کرے حالانکہ They are not yet recognized nuclear power لیکن ہم جو نیوکلیئر پاور ہیں، میزائل ٹیکنالوجی ہے اور وہ ہمارے اوپر ڈرون حملے کرتے ہیں، وہ ہمیں ہر جگہ پر للکارتا ہے، ہمیں ہر فورم پر ذلیل کرتا ہے صرف اسلئے کہ ہم سب کچھ ہیں، صوبوں میں بٹے ہوئے ہیں، مذہبوں میں بٹے ہوئے ہیں، فرقوں میں بٹے ہوئے ہیں لیکن ہم ایک نیشن نہیں بن سکے آج تک، جس دن ہم ایک نیشن بن گئے، امریکہ کا باپ بھی ہمارا کچھ نہیں بگاڑ سکتا۔ (تالیاں) میں

جناب سپیکر، یہ گزارش کرونگااس معزز ایوان کے تمام اراکین سے کہ وقت آنے پر ہم True point scoring کرتے ہیں، وقت آنے پر ہم نے ایک دوسرے کے خلاف تقریریں بھی کی ہیں الیکشن میں، لیکن یہ وقت اب اور قسم کا تقاضا کر رہا ہے ہم سب سے کہ ہم سب بیٹھ کے، حکومت اور اپوزیشن، اکٹھے یہ مشاورت کریں کہ اس صورتحال سے ہم اپنے اس صوبے کو کیسے نکال سکتے ہیں اور میں سمجھتا ہوں کہ وہ راستہ وہی راستہ ہے جو امن کی طرف جاتا ہے، جس کی طرف اے پی سی میں فیصلہ ہو چکا ہے۔ ہم مرکزی حکومت سے یہاں مطالبہ کرتے ہیں کہ وہ جلد از جلد اس Peace process کو شروع کرے، صوبہ ان کو Facilitate کرنے کیلئے ہر وقت تیار ہے تاکہ ہمارے بے گناہ لوگوں کی جانیں بچ سکیں۔ Thank you very much, janab Speaker۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب فضل الہیٰ صاحب۔

جناب فضل الہیٰ: شکریه جناب سپیکر صاحب، ډیر مشکور یو چې تاسو مونږ ته نن ټائم را کړو۔ کله چې په چرچ کښې دهماکه شوې وه جی، د هغې نه دوه ورځې مخکښې زما په حلقه PK-06 پشاور کښې اچینی بالا یو کلے دے، په جمات کښې دهماکه وشوه، په هغې کښې پینځه کسان شهیدان شو او یویشت زخمیان شو۔ زه د میډیا د ورونړو ډیر مشکور یم چې د دوئ نه بغیر زما حلقې ته څوک رانغلل او نه چا تپوس وکړو او نه په دې دویمه ورځ په بحث کښې هغه شهیدان او هغه زخمیان-----

اراکین: شیم، شیم۔

جناب فضل الہیٰ: نه مولانا صاحب! تا هم اخبار کتلے وو، د شیم پکښې ضرورت ځکه نشته، بخښنه غواړم چې اخبار هم زما دې ملګرو کتلے وو، هم د اپوزیشن ملګرو کتلے وو، هیڅا ذکر ونکړو نو زه دا وایم چې آیا دا په جمات کښې چې څوک په دهماکو کښې شهیدان شی ولې هغه شهیدان نه دی، که نه هغه پی ایف چه کښې وسیږی او هغه د ټرائبل په باؤنډرئ باندې دی، هغه ځکه تاسو نشئ یادولے ؟۔ زه جی اپیل کوم، درخواست کوم چې مهربانی وکړئ دا کوم زما ورونړه چې شهیدان شوی دی او زخمیان شوی دی، د دوئ د پاره د هم د هغه پیسو اعلان وشی چې کوم د شهداء دے او کوم د زخمیانو دے۔ دویمه خبره دا ده

جی چې څنګه مولانا عصمت الله صاحب اووئیل (تالیاں) چې څنګه مولانا صاحب اووئیل، زما مشر مشتاق غنی صاحب خبره وکړه چې ټولو د هماکو کښې طالبانو ذمه داری قبوله نکړه نو آیا دا کار چا وکړو؟ زه دا وایم چې صرف او صرف دا کار هغه سړے کولے شی چې کوم د اسلام دشمن دے، کوم د پښتون دشمن دے او کوم د پاکستان دشمن دے نو زما په خیال سره چې زه خپل دې ورونړو ته په دې هاؤس کښې زه جولئ ونیسم او زه منت وکړم چې ټول، چې څنګه زه دا خبره په جار کوم او په ایمانداری کوم چې زمونږ د ملک دشمن هغه د ټولو نه پهلا امریکه ده او دویم هندوستان دے او انډیا ده۔ (تالیاں) نو دیکښې هډو د ویرې خبره نشته۔۔۔۔

ایک رکن: اسرائیل هم دے۔

جناب فضل الہیٰ: اسرائیل هم دے، هغه ټول یو ګروپ دے، ټول دې ته جوړ شوی دی چې دا پاکستان د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ په نعره باندې جوړ شوے دے او دا ختمول غواړی، دا ایټمی قوت دے، دا ختمول غواړی۔ نو زه دا خواست کوم ټولو ورونړو ته چې څوک په دې هاؤس کښې موجود دی چې مهربانی وکړئ په دې ایجنډا باندې یو شئ او جناب سپیکر صاحب، ما یو قرارداد جمع کړے دے یو میاشت مخکښې نو زه دا غواړم چې تاسو سبا له هغه قرارداد مخې ته راؤړئ ځکه چې زمونږ د صوبې نه د سیکورټی په لحاظ سره وائی چې د سترو ځائې شهبازګړه ده نو شهبازګړه ترینه جوړه شوې ده۔ (مداخلت) ما ته پته ده ستا حلقه ده خو خبره داسې ده جی چې دغه قرارداد راشی، په هغې کښې چې کوم غیر ملکی کسان دی، هغه ته د ورک پرمټ ایشو شی او هغه چې کوم دے د یو ضلعې نه بلې ضلعې ته ځئ، باقاعده د هغه اجازت اخلی، بغیر د اجازت نه د یوې ضلعې نه بلې ته هم نه ځی، دا ما قرارداد پیش کړے دے۔ زه سپیکر صاحب، تاسو ته دا درخواست کوم چې مهربانی وکړئ، تاسو دا قرارداد سبا له پیش کړئ په دیکښې چې په دې باندې قانون سازی وکړو او ټول کارونه پریږدو، د ټولو نه زمونږ هر یو بچے، هر یو مشر، هر یو کشر، هر یو نارینه او زنانه صرف یو آواز کوی او دا خبره کوی چې مونږ ته صرف امن پکار دے، مونږ ته صرف امن

پکار دے ، مونږ ته هيڅ نه دی پکار ، هغوی وائی مونږ ته روټۍ هم نه ده پکار ، مونږ ته اوبه هم نه دی پکار خو مونږ ته امن پکار دے نو د دې د پاره چې لږه مهربانی وکړئ څنګه چې سيکورټی ايجنسيانې دی، تاسو وګورئ که يو ځائې کښې ناکه لګيدلې ده نو زمونږه ورونړه چې کله چيکنګ کوی نو د مسافر جيب ګوری خو والله که ئے ګاډے ګوری، نه ئے ډاله وچتوی چې يره ديکښې بم دے او که ديکښې بارود دی (تالیاں) نو مهربانی وکړئ جی د دې د پاره زر تر زره قانون سازی جوړه کړئ او زر تر زره يو دغه قرارداد چې مونږ جمع کړے دے ، په دې باندې عمل وکړئ۔ ډيره مننه، شکريه۔

جناب ڈپٹی سپیکر: محمد علی صاحب،جناب محمد علی خان صاحب۔

محترمہ نگہت اورکزئی: جناب سپیکر صاحب! میں میڈیا کے حوالے سے بات کرنا چاہتی ہوں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: محمد علی خان صاحب بات کرلیں پھر آپ کو میں۔۔۔۔۔

محترمہ نگہت اورکزئی: میڈیا والے ناراض ہورہے ہیں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: میڈیا والے تو ہمارے بھائی ہیں اور جو ہے، ٹھیک ہے محمد علی خان صاحب بات کریں، پھر آپ کو موقع دیتے ہیں جی۔

جناب محمد علی: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکريه، جناب سپيکر صاحب۔ زه اول د اپوزيشن د ورونړو ډيره زياته شکريه ادا کوم چې دوئ په دې اهم او په دې لويه واقعه باندې ريکوزيشن جمع کړو او د دوئ په خواهش باندې د اسمبلئ اجلاس نن دويمه ورځ ده چې طلب شوے دے او په هغې باندې بحث روان دے۔ يقيناً د دې واقعې چې څومره مذمت وشی دا کم دے ځکه چې د بې ګناه خلقو وينې توئې شوې دی او په دې موقع باندې پکار هم دا وه چې په دې اهم او په دې فوری نوعيت مسئلې باندې د اسمبلئ دا اجلاس راغوښتلے شوے وے او د دې اسمبلئ اجلاس دومره اهميت وو چې زه د دې د اهميت نه پخپله باخبره ووم ځکه چې په دې 124 ايم پی ايز کښې واحد محمد علی داسې ايم پی اے دے چې د درې نيم سوه کلوميټره لرې د پيښور نه آباد دے او د اسمبلئ اجلاس له دے د دوه ورځو د پاره د کوهستان نه راغلے دے۔ (تالیاں) زه پرون سحر

پینځه بجې د کوره سحر راوتے یم او مازیګر پینځه بجې زه پیښور ته رارسیدلے یم او صرف په دې بنیاد چې زه دې اسمبلۍ کښې شرکت وکړم او زما دا امید هم وو چې کیدے شی اپوزیشن به دومره لوئے تیارے کړے وی، لکه زه به یو مثال ورکړم د 2002، د 2002 حکومت چې کله چې د ایم ایم اے حکومت وو چې په هغې کښې زه پخپله هم شامل ووم، زما ورور شهید فرید خان د دوئ سره ایم پی اے وو، شاه حسین صاحب هغه دے ناست دے مخامخ چې هغه وخت د جمعیت علماء اسلام او د جماعت اسلامی حکومت وو، مولانا عصمت الله صاحب په هغې کښې ناست وو، ما ته د 2002 د ایم ایم اے حکومت یاد شو۔ د اسرار الله ګنډا پور صاحب یو مثال زه هر چا له ورکوم چې په هغه وخت کښې دے په اپوزیشن کښې وو، نګهت اورکزئی صاحبه هم په هغه وخت کښې په اسمبلۍ کښې وه، زما ذهن کښې دا وو چې اپوزیشن به دومره تیارے کړے وی لکه څنګه چې اسرار الله ګنډا پور صاحب په 2002 حکومت کښې په اپوزیشن کښې وو، کله چې حسبه بل پیش کیدو، نګهت بی بی ناسته ده، دې هغه پیپرې داسې بره ګزارې کړې، ما ته اوس هم یاد دی، دا اسرارالله ګنډا پور صاحب دوئ په اپوزیشن کښې وو، ده دومره محنت کړے وو تاسو په الله یقین وکړئ، ده هغه'بل' دومره سټډی کړے وو چې دے په اپوزیشن کښې وو، اکرم درانی صاحب ناست وو، هغه چیف منسټر وو او چې کله اسرار الله ګنډا پور صاحب خپل ترامیم او تجاویزات پیش کړل نو اکرم درانی صاحب وئیل چې زه آفرین وایم د اپوزیشن په دې زلمی باندې چې که دا ټول اپوزیشن داسې بهرپور تیارئ باندې اسمبلۍ ته راغلے وے څنګه چې دا اسرارالله ګنډا پور دے نو نن به زمونږ د دنیا اصلاح شوے وے۔ زما ذهن کښې دا وو چې زما دې ورونړو به ډیر لوئے تیارے کړے وی او په دې وجه به دوئ اووائی چې یره په دې حالاتو باندې، څنګه چې مونږ بحث کوؤ چې د لس کالونه په دې صوبه کښې یو اور کرلے شوے دے اور، کوم یو ممبر دے، کوم یو بچے دے چې هغه سحر د کوره اوځی هغه ته دا ګارنټی ده چې زه به نن ژوندے کور ته ځم؟ دا 124 ایم پی ایز دی او که د دې صوبې په کروړونو عوام دے، مونږ دا وایو چې د دې داسې یو حل وګورو، داسې یو حل ئے مونږ رااوباسو چې مکمل الله مونږ د دې یو عذاب نه خلاص

کړی۔ زما ستاسو په خدمت کښې یو ګزارش دے ، پرون چې مونږ په یو بل باندې کوم تابړ توړ حملې کړې دی، نن چې کوم زمونږ د اسمبلۍ اجلاس دے ، زما درته یو ګزارش دے د الله د پاره دا لس کاله خو زه پخپله ګورم د 2002 نه 2008 پورې چې زما ورور ایم پی اے وو، د سترګو په رپ کښې هغه پینځه کاله تیر شوی دی او اوس دا اسمبلی ده، تاسو په الله یقین وکړئ زه خو دا وایم چې پرون زما الیکشن شوے دے او نن څلور میاشتې د الیکشن شوې دی، د سترګو په رپ کښې دا څلور میاشتې تیرې شوې دی۔ زه خپل حکومت ته او دې اپوزیشن والا ته درخواست کوم چې کښینئ خدائے ته وګورئ، د دې خپل منصب سره بې ایمانی مه کوئ، د دې خپلې عهدې نه کار واخلئ او دا پینځه کاله قیمتی کړئ، داسې نه چې مونږ د دې نه د بادشاه پالنګ جوړ کړو او یو ټائم ورته وراوخیژو او پینځه کاله بعد مونږ د خوبه پاڅو۔ زه دا یو خبره کوم په دې پاکستان کښې بنیادی مصیبت هم دا دے ، دلته چې عزت ګټې، عزت نو د خپل مرګ انتظار به کوې، کله چې مړ شې هر سړے وائی یره ډیر ښه سړے وو، ډیر ایماندار سړے وو خو که ژوندے ئې هیڅوک به درته دا نه وائی چې فلانے په ملک خفه کیږی، فلانے په قوم خفه کیږی او فلانے په دې اولس باندې خفه کیږی۔ مونږ دا 124 ایم پی ایز یو، د بهر خلقو زمونږ په باره کښې ګورے ډیر لوئې تاثرات دی، د دې صوبې کروړونو خلق دی، زه دا یو خبره کوم نن که زه په دې اسمبلۍ کښې خبره کوم، ما پخپله حلقه کښې څوارلس زره ووټ اخستے دے ، دا خبره څوارلس زره کسان کوی، که نن دلته زمونږ بابک صاحب خبره کوی، دوئ چې څومره ووټ اخستے دے دومره خلق کوی، نو بنیادی زما دا عرض دے چې دا د دې صوبې د کروړونو خلقو نمائنده جرګه ده، پکار ده چې مونږ دلته کښینو او راځئ دا عهد کوؤ، اپوزیشن او حکومت ته زه دا وایم دا د خپل رب سره وعده کوؤ چې ترڅو پورې زمونږ زندګی وی او په دې وجود کښې زمونږ ساه وی، مونږ به د یو داسې جامع پالیسئ د پاره کردار ادا کوؤ چې زمونږ سرونه د پکښې لاړ شی خو دا قوم، دا بچی او دا اولس چې د دې عذاب او د دې مصیبت نه خلاص شی۔

(تالیاں) پرونه راهسې زه چې کوم حالات ګورم، خدائے شته زه دومره مایوسه یم د پرون نه، هر سړے دا وائی چې دهماکه وشوه، هر سړے دا وائی چې وینې

توئې شوې، سره زما چا دا خبره وکړه چې راځئ چې دا دا پالیسی کوؤ؟ دا دا طریقه خپله کړئ چې د ظلم دا لاره چې ده نو دا منع شی؟ مونږ دلته د یو بل په عزت پسې اینښتی یو، مونږ دلته په یو بل پسې خبرې کوؤ، ما به په الیکشن جناب سپیکر صاحب، په خپل تقریرکښې یو خبره بار بار کوله، یو واقعه مې وئیله، اوس ما ته هغه واقعه بیا یاده شوه، دلته زه تاسو ته وایم، اکبر بادشاه د مغل د دور یو مشهور بادشاه یو ځل د خپل دربار نه ووتلو، خپل باغ ته په چکر ځی او لویه د فوجیانو یو قافله ورسره روانه ده، سپه سالار ورسره روان دے۔ د دې اکبر بادشاه ورور که د تره ځوئے ئے وو، په پټی کښې هلته یوه کوی او په لاس کښې ورسره ګنتری ده، کله چې د اکبر بادشاه دا ورور بادشاه سلامت وینی نو ورته وائی پخیر'اکبریه' ! څنګه ئې؟ نو اکبر بادشاه ورته په خنده شی چې ښه یم، خو د اکبر بادشاه په سپه سالار باندې دا خبره دومره بده ولګیده چې ده فوری طور توره راواویستله چې زه د دې ظالم نه او د دې ګستاخ نه سر قلموم چې ته څنګه بادشاه ته وائې چې'اکبریه' ! ته څنګه ئې؟ نو چې څنکه ده توره راواویستله نو بادشاه سلامت ورته اووئیل څه کوې؟ وائی بادشاه له زه د ده نه سر قلموم د دې ګستاخ نه، ده ستا په شان کښې ګستاخی کړې ده چې'اکبریه' ! څنګه ئې؟ نو هغه ورته په خنده شو، وائی ګوره زه تا ته اکبر بادشاه یم او دې اولس او دې قوم ته اکبر بادشاه یم، د ده خو زه ورور یم، ده ته زه ځکه سپک او بې قدره یم۔ نو نن ما ته هغه خبره یادیږی چې بهر د خلقو زمونږ په باره کښې څه تاثرات دی او زمونږ دننه په دې اسمبلئ کښې د یو بل باره کښې څه تاثرات دی؟ لهذا زه درته ګزارش کوم، زه درته دا درخواست کوم، څنګه چې د اپوزیشن په ریکوزیشن باندې دوه ورځې د اسمبلئ اجلاس دے ، زه تاسو ته په دې اسمبلی فورم وایم چې زه د دې اجلاس نه مطمئن نه یم، د پرونئ او ننئ کارروایئ نه زه ایک فیصد هم مطمئن نه یم، پکار ده چې تاسو تجاویز راوړی وے ، دوه ورځې ستاسو په تجویز باندې د اسمبلئ کارروائی وه، زه دې ټولې اسمبلئ ته ریکویسټ کوم، زه اپوزیشن او حکومت ته ریکویسټ کوم چې کم ازکم د اتوار ورځې پورې دا اسمبلی وچلوئ، دوه ورځې اعتراضات او تنقیدونه وشول، د نن نه خپلې شپې شوګیره کړئ، دا تجاویز راوړئ، خپله مغز

خوری وکړئ چې په دې صوبه کښې به امن څنګه راځي، پالیسي به مونږ څنګه جوړوؤ او کم ازکم دا باقي پینځه ورځې راځئ چې مونږ کښینو او د اسمبلۍ د اجلاس د پاره درخواست وکړو چې کم ازکم د اتوار په ورځ مونږ خپل تجاویز پیش کړو، زما دغه خبره ده۔ جزاکم اللہ۔

محترمہ نگہت اورکزئی: جناب سپیکر!

جناب ڈپٹی سپیکر: جی نگہت یوسفزئی، نگہت اورکزئی صاحبہ۔ (قہقہہ)

(قہقہے اور تالیاں)

محترمہ نگہت اورکزئی: (قہقہہ) جناب میرا خیال ہے شوکت یوسفزئی آپ کا بہت Favorite ہے۔ (قہقہہ)

جناب ڈپٹی سپیکر: میں اسلئے کہتا ہوں کہ نہ یوسفزئی صاحب ہیں، شاہ فرمان صاحب بھی ذرا، میں نے کہا کہ آپ تھوڑا Wait کرتیں تو بہتر ہوتا۔

محترمہ نگہت اورکزئی: شکریہ جناب، شکریہ جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب، اس وقت میں نے آپ کو Mention کیا کہ یہاں پر ہمارے میڈیا کے جو تمام لوگ بیٹھے ہوئے ہیں، انہوں نے ایک ایسی بات پر واک آؤٹ کیا کہ جو پورے پریس اور پورے چینلز پر کل یہ پٹی چلتی رہی کہ سینیئر لوگ اسلام آباد سے آئے ہوئے تھے اور وہ جب چیف ایگزیکٹیو صاحب سے ملنے کیلئے گئے تو انہوں نے کہا کہ یہ دھماکے جو ہیں، وہ میڈیا کی وجہ سے ہو رہے ہیں تو جناب سپیکر صاحب، اس بات پر ہم سب کو تھوڑا سا، تھوڑا سا کیا بہت زیادہ اسلئے افسوس ہے، میرا خیال ہے یہ جو اسمبلی کے پورے لوگ بیٹھے ہوئے ہیں کیونکہ میڈیا ایک ایسی طاقت ہے جناب سپیکر صاحب کہ جہاں پر بھی کوئی بات ہوتی ہے، چاہے اچھی ہو، چاہے بری ہو جناب سپیکر صاحب، ہماری جانیں یا معصوم جانیں تو چلی جاتی ہیں لیکن ایم پی ایز، ایم این ایز، سینیٹرز اور ان وی آئی پیز کی جانیں ان کی جانوں کے بعد جاتی ہیں کیونکہ یہ اسی وقت موقع پر پہنچتے ہیں، جیسے پولیس آفیسرز پہنچتے ہیں، جیسے دوسرے لوگ پہنچتے ہیں تو میرا خیال ہے جناب سپیکر صاحب کہ ان کے بارے میں اگر تھوڑا سا Positive رویہ بلکہ زیادہ Positive رویہ، کیونکہ یہ ہماری ہر اچھائی کو بیان کرتے ہیں۔ یہ کل کا جو واقعہ ہوا جناب سپیکر صاحب، اس کو تمام میڈیا نے اچھے طریقے سے یا برے طریقے سے، ہمیں گلے بھی ہونگے،

ہمیں ان سے شکوے بھی ہونگے لیکن جناب سپیکر صاحب، ایسی بات کرنا اور پھر دوسرے صوبے سے ایک سینیئر صحافی کا آنا اور ان سے ملاقات کرنا اور ان کا پھر یہ جواب دینا تو جناب سپیکر صاحب، اگر اس پر گورنمنٹ کی طرف سے یا چیف منسٹر کی طرف سے کوئی وضاحت، ان کے ترجمان اور یا انفارمیشن کے ہمارے جو منسٹر ہیں، وہ کر دیں۔ بہرحال اگر ایسی بات ہوئی ہے تو ہم تمام لوگ اس چیز کی مذمت کرتے ہیں اور یہ سمجھتے ہیں کہ میڈیا جو ہے، وہ ہماری ایک فرنٹ لائن ہے اور ان کیلئے اس قسم کے الفاظ استعمال نہ کئے جائیں۔ شکریہ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: منسٹر انفارمیشن، شاہ فرمان صاحب، پلیز۔

جناب شاہ فرمان (وزیر اطلاعات): شکریہ، جناب سپیکر۔ Media is the fourth pillar of the State اور میں یہ Accept کرتا ہوں کہ اگر آج میڈیا کی آزادی نہ ہوتی، لوگوں کے اندر اتنی Awareness نہ ہوتی تو اس ملک کے اندر، اس صوبے کے اندر روایتی سیاست ہوتی اور شاید پاکستان تحریک انصاف آج حکومت میں نہ ہوتی، میں میڈیا کے Role سے انکار نہیں کرتا، حقیقت کا مجھے نہیں پتہ لیکن میں Unconditionally معافی مانگتا ہوں (تالیاں) گورنمنٹ کی طرف سے، اگر ان کی دل آزاری ہوئی ہے یا کوئی ایسی بات، As a fourth pillar of the State ان کے ساتھ Interaction سب کی ہوگی، گورنمنٹ کی ہوگی، اپوزیشن کی ہوگی، بطور ایم پی اے Individually ہوگی، ان کا ایک Role ہے اور جن کا Role ہوتا ہے، ان سے گلہ بھی کیا جاتا ہے، ان سے بات بھی کی جاتی ہے، یہ Separate نہیں ہیں، یہ علیحدہ نہیں ہیں، یہ سٹیٹ کا حصہ ہیں، یہ گورنمنٹ کا حصہ ہیں۔۔۔۔

(مغرب کی اذان)

وزیر اطلاعات: لہذا میں میڈیا کے دوستوں سے معذرت کے ساتھ یہ بھی کہنا چاہتا ہوں کہ ان کا جو Role ہے، اس حساب سے ان کی Importance ہے اور اس Importance کے حساب کے ساتھ، اس Proportion کے ساتھ ان کے ساتھ Interaction ہوگی۔ اگر کہیں Rectification کی ضرورت ہے تو وہ بھی ان کے ساتھ بات ہوگی کہ کہاں پر Rectification کی ضرورت ہے، گورنمنٹ کا کیا شکوہ ہے، Facts لانے میں ان کی Help کی جائے گی۔ میں سمجھتا ہوں کہ ان کا Role، ان کی Importance

اور ان کے کردار سے ہم انکار نہیں کرتے۔ مجھے یقین ہے کہ چیف منسٹر صاحب کی نیت وہ نہیں تھی جو سامنے آگئی ہے لیکن میں پھر سے کہتا ہوں کہ دل میں کیا بات ہے، دماغ میں کیا ہے اور اس کو الفاظ کا کونسا جامہ پہنانا ہے، شاید اس Sequence میں اگر کوئی غلطی ہو گئی ہے تو اس کیلئے ہم پھر سے معذرت چاہتے ہیں۔ ہم ان کی Importance کو سمجھتے ہیں، خاصکر تحریک انصاف کی گورنمنٹ لانے میں اور لوگوں کی Awareness میں ان کا جو کردار ہے، ہم اس کو تسلیم کرتے ہیں۔ مجھے امید ہے کہ یہ ہمارے اس Gesture کو اگر کوئی ایسی بات کی گئی ہو کہ جس سے میڈیا کے Image کے اوپر کوئی اثر پڑا ہو تو یہ مجھے بتا سکتے ہیں کہ اس کی کس قسم کی Rectification ہے کہ ہم پارٹی کے اندر، Youth کے اندر، آئی ایس ایف کے اندر میڈیا کے حوالے سے بات آگے پہنچادیں۔

(تالیاں)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> وقفہ برائے نماز۔

(اس مرحلہ پر ایوان کی کارروائی نماز مغرب کیلئے ملتوی ہو گئی)

(وقفہ کے بعد جناب ڈپٹی سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> حاجی قلندر خان لودھی صاحب۔

<u>حاجی قلندر خان لودھی (مشیر خوراک):</u> شکریہ، جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، اسلئے میں کھڑا ہو گیا کہ میرے اپوزیشن کے بھائی آئے ہوئے ہیں اور اس طرف میں دیکھ رہا ہوں کہ میرے حکومتی دوست نہیں پہنچے تو میں نے سوچا کہ بجائے یہ کوئی کورم کی بات کریں گے کیونکہ یہ جو سیشن بلایا گیا ہے، یہ اسلئے کہ یہ بڑا Sensitive مسئلہ ہے جس پر یہ بلایا گیا ہے اور اس کی بڑی اہمیت ہے تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ میں اسلئے کھڑا ہو گیا کہ اس پر بات چیت جاری رہے کہ اس کا تسلسل نہیں ٹوٹنا چاہیئے۔ جناب سپیکر، ہمارا کوئی مقدر میں ایسا ہی لکھا گیا ہے دس سالوں سے کہ جو بھی نیا سیشن آتا ہے، ہم پہلے سے زیادہ دکھی ہو کر اس میں بیٹھتے ہیں، اس میں وہ پہلے سے بڑا زیادہ دکھ دیکھنے کو ملتا ہے۔ اس میں کوہاٹی گیٹ کا واقعہ ہے یا میرے سیکر ٹریٹ کے بھائیوں کا، بس والوں کا یا مسیحی برادری کا ہے یا قصہ خوانی بازار کا ہے، یہی نہیں ہے بلکہ اس سے پہلے چالیس سے پینتالیس ہزار قیمتی جانیں، اس کا نذرانہ ہم پیش کر چکے ہیں جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، کل میرے بھائی

بڑی اچھی تیاری کر کے آئے تھے، بڑی پیاری باتیں بھی کہیں، کبھی جذباتی بھی ہو جاتے تھے اور کبھی یہاں تک بات پہنچ جاتی تھی کہ مارو، مارو، مار والی بات شروع ہو گئی کہ کچھ اور نہیں ہے، مذاکرات کی اہمیت نہیں ہے، کوئی چیز Useful نہیں رہی ہے، سب Useless ہو گئی ہیں تو اب ایک ہی بات ہے، لڑائی۔ دیکھیں جناب سپیکر، یہ ہم سب سمجھتے ہیں اور اس فورم پر جتنے بھی یہ میرے بھائی بہنیں آئی ہوئی ہیں، بہت ہی زیادہ ذمہ دار ہیں، لاکھوں لوگوں کے نمائندے ہیں، انہیں لوگوں نے چن کہ بھیجا ہے، یہ معاشرے کی Cream ہیں اور اس وقت میرا یہ صوبہ ہی نہیں بلکہ پورے ملک کی نظریں ہم پر لگی ہوئی ہیں، ہمیں Unite رہنا ہے، ہمیں ایک ہو کے، ایک زبان ہو کر بولنا ہمارے لئے بہت ضروری ہے اس صوبے کیلئے اور اس ملک کیلئے بھی۔ جناب سپیکر، یہ جتنے بھی نقصانات ہو گئے، اگر اس سے زیادہ بھی ہونگے، ہم لڑائی کرتے ہی رہیں گے، کرتے ہی رہیں گے مگر آخر ایک وقت ایسا آنا ہی ہے کہ جس پر ہم نے بیٹھنا ہے، اگر اس میں اب ہم بیٹھ جائیں تو اس میں کوئی قباحت نہیں ہے۔ آج میں مشکور ہوں، اپنے اپوزیشن بھائیوں کی طرف سے بھی بڑی اچھی باتیں کی گئیں، بڑی Positive باتیں بھی ان کی ہو گئیں اور کچھ ایسی باتیں بھی ہوئیں جو کل کے واقعے میں ہیں، جو میرے جیسے آدمی کیلئے قابل برداشت نہیں تھیں، ہماری اپنی کوئی روایت ہے، نئے جوان نسل والے کچھ اور سوچ رہے ہیں، ہماری کچھ اور سوچ تھی کہ ہمارا ایک تقدس ہے، ہم مسلمان ہیں، پھر ہماری یہ پختو پختو، ہمارے لئے کہتے ہیں اس صوبے میں، اس کا بھی ایک تقدس ہے، ایک روایت ہے۔ تو اس میں یہ ہے کہ ہمارا بہت سارا فرق ہے دوسرے صوبوں سے، ہم اس اسمبلی کو جرگہ سے ہمیشہ تشبیہ دیتے ہیں اور یہاں پر چادر اور چار دیواری کو بھی بڑا Count کیا جاتا ہے اور پھر اس میں شرم اور حیاء کی بڑی بات کی جاتی ہے لیکن کل کوئی ایسا واقعہ بھی ہوا جو بہتر نہیں تھا لیکن اس وقت جو گزر گیا سو گزر گیا۔ جناب سپیکر، آج جو مولانا صاحب نے بات کی، اس نے پانسہ ہی پلٹ دیا، سب کو معلوم ہے کہ کون کیا کر رہا ہے اور کیا ہو رہا ہے ہمارے ساتھ، مسلمانوں کے ساتھ ازل سے کیا ہو رہا ہے؟ جب ادھر میں تھا تو کچھ اور بات تھی، ادھر آنے سے اگر میں شروع کر دیتا اس بات کو تو میرے خیال میں میرے ساتھی یا کچھ لکھنے والے یہ لکھتے کہ یہ گورنمنٹ کو سپورٹ کر رہا ہے اسلئے، تو اچھا ہوا، میں مشکور ہوں مولانا عصمت اللہ صاحب کا کہ انہوں نے ایک قرآنی حوالے سے اور حدیث کے حوالے سے کہ یہ پاکستان کس مقصد کیلئے بنا

اور اس کا دشمن ازلی کون ہے؟ اس کو کھول کے سامنے لے آیا اور بلیک واٹر کی باتیں بھی کیں، سب باتیں انہوں نے کیں، میں Repetition میں نہیں جاؤنگا، اب یہ بات ہے میری جناب سپیکر، جیسے پھر اس کے بعد مشتاق غنی صاحب بڑے اچھے طریقے سے اس مؤقف کو اور آگے لے گئے، تو اب بات میری کہنے کی یہ ہے جی کہ اب اس میں اگر وہ ہمارے دشمن نہیں ہیں، یہ واقعہ کوہاٹی گیٹ والا بھی طالبان نے نہیں کیا، اگر یہ بس والا واقعہ بھی طالبان نے نہیں کیا، اگر یہ بھی انہوں نے نہیں کیا، قصہ خوانی والا بھی انہوں نے نہیں کیا تو اس کا مطلب ہے کہ کوئی اور فورس ہے جو یہ کچھ کر رہی ہے، اسے سبوتاژ کر رہی ہے اس مذاکرات کو، تو پھر اس مذاکرات میں تو بالکل لیٹ نہیں ہونا چاہیئے، میز پر بیٹھنا چاہیئے تاکہ پتہ چلے کہ کون دشمن ہے اور کون اس کو کرنا چاہتا ہے؟ کیونکہ دس سال سے جو مسئلہ چل رہا ہے جناب سپیکر، نہ مرنے والے کو پتہ ہے کہ مجھے کیوں مارا جا رہا ہے اور نہ مارنے والے کو پتہ ہے کہ میں کیوں مار رہا ہوں؟ اگر اس کو یہ سمجھ ہو کہ میں کیوں مار رہا ہوں اور ایک مسلمان کا قتل کتنا بڑا جرم ہے، تو میرے خیال میں یہ جو دعویدار ہیں اسلام کے، تو وہ کبھی بھی ایسا سنگین اقدام نہ کریں، وہ نا سمجھ ہیں جو یہ کر رہے ہیں، تو اب ان سے نا سمجھی میں کون کرا رہا ہے؟ تو یہ سب چیزیں، باتیں کب کھل کے آئیں گی؟ جب ایک میز پر بیٹھیں گے۔ جناب سپیکر، جس پارٹی کے ساتھ میرا تعلق ہے، میرے قائد کا یہ پہلے سے ہی یہی ہے، یہی اس کا منشور ہے کہ مذاکرات، مذاکرات، ڈائیلاگ کے بغیر تو کوئی چیز حل ہو نہیں سکتی، ایک وقت آتا ہے پھر اس کے بعد بیٹھنا پڑتا ہے، تو اتنے زیادہ ہمارے چالیس، پینتالیس ہزار انسان ضائع ہو جانے کے بعد اور ہمارے قیمتی جرنیل اور بہت سارے ججز اور بہت سارے پارلیمنٹیریز اور ہر آدمی اپنے گھر کیلئے اس کا بادشاہ ہوتا ہے، ہر بچہ بھی ہمارے لئے قیمتی ہے، ہر مزدور بھی ہمارے لئے قیمتی ہے، تو یہ سر جو شہید ہو گئے تو اس کے بعد اگر اس میں اب دیر کی گئی، اب جب یہ بات ہو گئی کہ ایک واقعہ ہو گیا کسی نے ذمہ داری نہیں لی، دوسرا ہو گیا کسی نے نہیں لی تو اس کا مطلب ہے کہ کوئی ہے جو کرا رہا ہے اور وہ مشتاق غنی صاحب اور ہم سب لوگ یہ کہتے ہیں کہ امریکہ کو ذرا بھی نہیں بھاتا پاکستان، وہ اس پاکستان کو نہیں دیکھ سکتا، وہ اس ایٹمی پاور کو نہیں دیکھ سکتا، اس کا مطلب ہے کہ جو لوگ سابقہ مطالبات سے ادھر ادھر ہوتے رہے ہیں تو اس کا مطلب ہے کہ وہ کس کو سپورٹ کر رہے تھے اور آج جواب مطالبات، آل پارٹیز کانفرنس ہو گئی ہے، میٹنگ ہو گئی ہے، اے پی سی ہو گئی ہے تو اس میں یہ سب

پارٹیاں ہیں، سب پارٹی کے ہیڈز ہیں، جہاں جتنے لوگ ہم یہاں بیٹھے ہوئے ہیں، ہر پارٹی کا ہیڈ جو ہے ہم سے زیادہ سوچنے والا ہے، ہم سے زیادہ ذمہ دار ہے، ہم سے زیادہ قابل ہے، ہم سے زیادہ اس کی ذمہ داری ہے۔ اگر ان ذمہ داروں نے ایک بات کر لی ہے، بیٹھ گئے تو ہمیں اسے Own کرنا چاہیئے، 'مار و مارو' کی بات نہیں کرنی چاہیئے۔ یہ وقت بھی اگر خدانہ کرے ہمارے گلے پڑا ہوا ہے تو یہ بھی کرنا ہی پڑے گا لیکن اب اگر اس سے پہلے ہمارے High-ups نے کوئی بات سوچ لی ہے مذاکرات کی تو ہم سب کو اسے سپورٹ کرنا چاہیئے اور اس میں کسی قسم کی تاخیر نہیں کرنی چاہیئے، جتنی جلدی ہو اس پر Implementation ہو جائے کہ کون بھاگتا ہے؟ اس سے جو بھاگتے ہیں پتہ چلے گا، وہ بھی اسی زمرے میں آجائیں گے، جو آج کہتے ہیں کہ ہم نے یہ بلاسٹ نہیں کیا تو کل اگر مذاکرات سے بھاگتے ہیں تو وہ کہہ دینگے کہ ان کی بھی کوئی چال تھی، یہ بھی انہوں نے ان کو موقع دیا، پھر وہ بھی ہے، وہ تو بات ہے ہی ہے۔ اور دوسری جناب سپیکر، اگر کوئی آدمی یہ سوچتا ہے، میرے یہاں ذمہ دار لوگ بیٹھے ہیں، پارلیمنٹیرینز ہیں، بہت زیادہ پڑھے لکھے ہیں اور سیاست کو سمجھتے ہیں، اگر کوئی یہ سمجھے کہ ریاست سے کوئی طاقتور ہے تو میں سمجھتا ہوں کہ یہ کوئی بہتر سوچ نہیں ہے، ریاست / سٹیٹ ہمیشہ طاقتور ہوتی ہے، جب وہ ایکشن پر آتی ہے تو ملیامیٹ کر کے رکھ دیتی ہے لیکن وہ یہ چاہتی ہی نہیں ہے، سٹیٹ کی یہ کوشش ہوتی ہے کہ آخری دم تک Compromise کیا جائے اور بات ٹیبل ٹاک سے حل ہو جائے، اگر کہیں کوئی شورش ہے بھی تو اس کو بات چیت سے نمٹایا جائے کیونکہ اس میں کتنے بے گناہ مارے جائیں گے۔ ابھی ڈرون ہو رہا ہے جس کے ہم مخالف ہیں، نہیں ہونا چاہیئے، کس نے اجازت دی؟ نہیں ہونا چاہیئے، اسے بند ہونا چاہیئے لیکن اس میں اگر کوئی ایک آدھ وہ کہتے ہیں کہ غلط ہے تو اس میں کتنے بے گناہ مارے جائیں گے؟ تو کل جب سٹیٹ Attack کرے گی Forcefully تو کتنے اس میں بے گناہ مارے جائیں گے؟ تو اس میں یہ ہے کہ سب سے بہتر آپشن ہمارا مذاکرات کا ہے اور اس کو سب کو سپورٹ کرنا چاہیئے اور یہ مارو، مار والی بات اس کو مؤخر کریں اور اس کو سب سپورٹ کریں اور ہمارے جتنے بھی High-ups بیٹھے ہوئے ہیں، ان سے ہماری یہی ریکویسٹ ہے، اے پی سی والے جتنے بھی ہیں، اس کو چونکہ پرائم منسٹر صاحب آ گئے ہیں، اب اس میں اور تاخیر نہیں ہونی

چاہیئے۔ چونکہ ہاؤس میں کسی اور نے آپ سے ٹائم نہیں مانگا تو میں نے آپ سے ریکویسٹ کی، میں آپ کا مشکور ہوں کہ آپ نے مجھے موقع دیا۔

جناب ڈپٹی سپیکر: مفتی فضل غفور صاحب، پلیز۔

مولانا مفتی فضل غفور: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکریه، جناب سپیکر۔ د ټولو نه وړاندې خو جناب سپیکر صاحب، د هغه خلقو د پاره کوم چې په دغه سانحه کښې د هغوی زړونه دردیدلی دی، د ټول پاکستان عوام بالخصوص د خیبر پختونخوا چې د چا په کورونو کښې دغه ژړاګانې شوې دی، الله رب العالمین د هغوی ته صبر جمیل نصیب اوفرمائی او د آئنده د پاره د الله رب العالمین دغې ملک ته، دغې وطن ته او دغې عوامو ته داسې قسم حادثات چرته هم په سترګو باندې نه ښائی۔ محترم جناب سپیکر، په موضوع باندې د خبرې نه مخکښې صرف یو وضاحت کوم۔ پرون د مازیګر د مانځه د وقفې نه وروستو محترم جناب ملک قاسم صاحب چې کله د خپل سپیچ آغاز کولو، چونکه ډیر په جلدئ کښې راغے او د نګهت اورکزئی صاحبې د خبرو جواب او د خپل نوی قائد جناب عمران خان صاحب د دفاع د پاره چې ودریدو نو په غلطئ سره د هغه نه کلمه غلطه شوله او د بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ په ځائې باندې ئے بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ اووئیل۔ ما په هغه موقع باندې هم د هغوی د تصحیح کوشش وکړو خو چونکه د جذباتو وخت وو نو دا هغوی غلطئ سره وئیلې دی، زه دا نه وایم چې هغوی به قصداً عمداً داسې وئیلې وی۔ چونکه دا الفاظ د اسمبلئ د ریکارډ حصه جوړه شوه او د هغې ملکیت جوړ شو او دا د شیطان صفت د الله د پاره، نو دا مناسب نه دے۔ تاسو بهرحال د اسمبلئ د کارروایئ نه دغه الفاظ په خپلو صوابدیدی اختیاراتو سره حذف کړئ محترم جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: میں ان الفاظ کی Correction چاہتا ہوں جی، Correction کی جائے۔

مولانا مفتی فضل غفور: مهربانی جی، مهربانی، جزاکم الله۔ جناب سپیکر صاحب، په یو ډیره حساسه موضوع باندې بحث شروع دے۔ دا تیره خونی هفته چې دغه پیښور ئے په سرو وینو باندې رنګ کړو، په هغې باندې د دغې اسمبلئ غړی د خپلو جذباتو، د هغې د دکھ درد اظهار کوی۔ جناب سپیکر صاحب، دا یو حقیقت

دے چې دا ملک بالعموم او دا صوبه بالخصوص د کوم جنګ او د سرو لمبو په لپیټ کښې دہ، قانون نام کی کوئی چیز نہیں، لاقانونیت، ٹارگٹ کلنگ، په هر ځائې کښې Even زه به خپله ضلع واخلم، ضلع بونیر چې هلته د نن نه یو هفته مخکښې د پیر بابا په ډک بازار کښې په رڼرا ورځ باندې یو سیاسی کارکن قتل کړلے شو او یوه ډیره آسانه بهانه جوړه شوې ده د سیکورټې ادارو د پاره چې جی دا خو طالبانو قتل کړو، بس ذمه داری د سر نه ختمه شوله، بم بلاسټ شی جی، دا خو Suicide attack وو، بس ذمه داری د سر نه ختمه شوله۔ محترم جناب سپیکر صاحب، د صوبې په طول و عرض کښې زه ریکویسټ کوم تاسو ته چې کله ماسختن پخپله باندې هم کله یوولس دولس بجې په دې پیښور کښې یو راؤنډ ولګوئ، غیر اعلانیه کرفیو دلته نافذ وی، روډونه بند وی، خلق د خوف و هراس د وجې نه بهر ته نه راوځی۔ دا خلق دوئ تپوس کوی جناب سپیکر صاحب، دا د کومو سترګو نه چې اوښکې بهیږی، هغه د دغه خپلو اوښکو جواب غواړی۔ تاسو یقین وکړئ ما داسې داسې خلق په دغه صوبه کښې لیدلی دی چې د هغوی داسې ماشومان چې د هغوی پلاران نه د خپلې ګناه نه خبر دی او نه د جرم نه، هغه د خپلو کورونو نه وچت شوی دی او د هغوی ماشومان بچی په هفتو نه په میاشتو نه په کلونو باندے خپل پلاران اونه وینی او هغه ماشوم بچے چې کله د کور نه اوځی او سکول ته ځی، هغه د خپلې مور نه روپئ نه غواړی، پیسې ترې نه غواړی، هغه د خپلې مور نه یو سوال کوی، مورا! زه چې کور ته راځم زما ابو به کور ته واپس راغلے وی؟ او هغه ماشوم چې کله د سکول نه واپس راشی نو د خپل کور په دروازه باندې ولاړ د ټولو نه وړومبنی پښتنه ئے د خپلې مور نه دا وی، مورا! زما ابو کور ته راغلے دے؟ هغې زنانو چې د هغوی زړونه دردیدلی وو، هغوی په دغې الیکشن کښې چې کله پاکستان تحریک انصاف ته ووټ ورکولو، د سترګو نه ئے اوښکې بهیدلې چې دا به زمونږ هغه ورک شوې د زړه ټکړی ما له کور ته واپس راولی۔ زه ډیر په افسوس سره دا خبره کوم، نن د امن و امان په حواله باندې زمونږ حکومت سنجیده نه دے، د دې وجې نه نه چې زه د اپوزیشن یو رکن یم، محترم جناب سپیکر صاحب! څومره خلق لاپته دی، Missing persons څومره دی؟ د یوې یوې ضلعې ریکارډ د راجمع کړلے شی،

چرته دی؟ اخر دلته څه عدالت نشته، دلته قانون نشته، دلته اداري نشته دے؟ دا خلق به د چا نه د خپلې ژړا او د فرياد پښتنه کوی او تپوس به کوی؟ لهذا جناب سپيکر صاحب، په دې باندې يو انتهائی سنجيده غور پکار دے او زمونږ جناب محمد علی صاحب اوونيل، ډيرې خوږې خبرې ئے وکړې چې پکار ده چې تجاويز مخې ته راوړلی شی، تجاويز چا ته ورکړو؟ چا هم په دغه مسئله کښې خپل اونرشپ ښکاره کړے دے؟ پکار دا وه چې کله اے پی سی وشوله نو د بد امنئ مسئله د وسله والو خلقو سره، ګوندونو سره د مذاکراتو مسئله دا دغه صوبې مسئله ده، دا د سندهـ مسئله نه ده، دا د پنجاب او د بلوچستان مسئله نه ده، دا د بلې صوبې مسئله نه ده، دا دغې صوبې مسئله ده، پکار ده چې په ديکښې دلچسپی ښکاره شوې وے، په دې باندې د ټولو جماعتونو مشران راغونډ شوی وے، د دې ځائې نه يو جرګه جوړه شوې وے، د قبائلی سيمو ستر ملکان او ستر مشران راغونډ شوے وے او د دې د پاره يو مثبت پيشرفت شوے وے، بيا به زمونږ نه تجاويز غوښتل کيدل چې جې Guideline راته راکړئ چې اوس په څه طريقه باندې دا خبره مخ په وړاندې بوځو؟ که بچی مری نو د خيبر پختونخوا مری، که زنانه سرتورېږی د خيبر پختونخوا سرتورېږی، که وينی توئيږی د دغې خاورې توئيږی، ما به ډېره وهلی وی په هره مسئله کښې بل چا ته چې فلانکے د دا وکړی او فلانکے د دا وکړی او فلانکے د دا وکړی، لهذا زما به دا دست بسته درخواست وی چې د دغې سيشن د ختميدلو نه مخکښې مخکښې د پکار ده چې حکومت هغه د عملی اقداماتو اعلان وکړی، Guideline د مخې ته کيږدی چې دا خبره به مخ په وړاندې څنګه بوځو؟ مونږ به لاړ شو وفاق ته به کښينو، مونږ به ورته اووايو چې زمونږ زنانه، زمونږه بچی او زمونږ دا عوام نور مونږ په ژړا باندې نه شو ليدلې، د خيبر پختونخوا د عوامو د چهرو نه دکه درد او حسرت او نا اميدئ د هر يو چهرې نه دا ټپکاويږی:

جہاں گھر تھا، وہاں قبریں جہاں چرچ تھا وہاں شعلے

یہ ماتم خیز منظر سامنے ہے خوشدلی کیسی

لٹا کے عزت، لٹا کے عصمت یہ کس کی لاش یاں پڑی ہے

لهذا جناب سپیکر، ډیر د تعجب خبره ده چې یو فریق طالبان دی او بل فریق زمونږ سیکورټی ایجنسئ دی، واقعات وشو، یو فریق خو ظاهره خبره ده خو د طالبانو د طرف نه هم اعلان وشو جی چې مونږ ترې نه یو خبر، دا مونږ نه دی کړی او د حکومتی ترجمان د طرف نه راغلل چې *امن کو سبوتاژ کرنے میں کوئی تیسری قوت ملوث ہے۔ یہ تیسری قوت، یہ کیا ہے، یہ کون ہے*؟ دا خو د کم ازکم عوامو ته ورښکاره کړلے شی۔ نن که مونږ د دغې صوبې هر باشنده ته دا اختیار ورکوؤ چې جی Right to information تا ته دا حق درکوی نو کم ازکم د یو اسمبلئ د یو رکن په حیثیت زه هم د حکومتی ترجمان نه، زمونږ شاه فرمان صاحب تشریف فرما دے، زه ترې هم دا تپوس کولے شم چې محترم منسټر صاحب! د اے پی سی نه مخکښې محترم عمران خان صاحب چې کله په هغه ځان له ځائې کښې د پرائم منسټر سره او د چیف آف آرمی سټاف سره میټنګ وکړو، څه خو به ئے کم ازکم، څه Secret protocol، څه نه څه خبرې خو به ورته کم ازکم مخې ته راغلې وی۔ ټهیک ده، میډیا ته د نه ښودلې کیږی خو کم ازکم د دغې اسمبلئ دغې معززو اراکینو ته خو د هغه وښودلې شی، ښکاره شی مخې ته کم ازکم، په دغه صوبه کښې کوم فارن ایجنسیز، غیرملکی، بهر ملکی انټیلی جنس ایجنسئ کار کوی، په کوم کوم نوم باندې کار کوی، څومره تعداد د هغوی دے، د حکومت سره په ریکارډ باندې څه څه مخې ته موجود دی؟ زه چې ځم نو زما نه خو تپوس کیږی، زه ورته وایم ایم پی اے یم، وائی شناختی کارډ وښایه، شناختی کارډ وښایم، وائی *ایم پی اے کیا چیز ہوتی ہے*؟ وائی *یہ کس ڈیپارٹمنٹ کا ہے*؟ او بیا زمونږ د دې ګاډو خو هغه ډیګئ ئے خرابې کړلې، سستې ئے کړلې په وچتولو، راخلاصولو باندې او جناب سپیکر صاحب، د بارودو نه ډک ګاډے راځی او په قصه خوانئ کښې ودریږی، دا د کومې غاړې راغلل؟ دا به په یو ځائې کښې ډکیږی، دا به په یو ځائې کښېPlan کیږی خو کم ازکم د دې بعضې خبرو جواب دا خو حق دے د دغې عوامو چې تپوس وکړی د دغې حکومت وقت نه، لهذا زما به دا تجویز وی جناب سپیکر چې د دغه سیشن د ختمیدلو نه مخکښې مخکښې د په دغه صوبه کښې د

امن و امان د قیام د پاره کم ازکم حکومت د خپل Guideline وښائی، خپل پلاننگ د وښائی، خپل پراگریس د وښائی چې مونږ په دیکښې دومره دومره پیشرفت کړے دے۔ خپل اونرشپ د ښکاره کړی، سنجیدگی د په دې معامله کښې ښکاره کړی نو زمونږ به هم زړه مطمئن شی او دې میډیا ته به هم پته ولگی او بهر به هم دا مخلوق څه نه څه په دې خبره باندې پوهه شی چې اؤ زمونږ حکمرانان هغه په دغه خطه کښې سنجیده دی د ملک د امن و امان د قیام د پاره او بیا جناب سپیکر، یو ډیره عجیب خبره تیر وخت کښې چې کله جناب شهباز بهټی صاحب چې د مسیحی برادرئ سره ئے تعلق ساتلو، هغه قتل کړلے شو، هغه وخت کښې هم یو مسئله رااوچته شوله چې جی یو طرف ته مسیحی برادری، اقلیتی برادری د لاقانونیت د وجې نه د عدم تحفظ شکار دی او بل خوا د قانون له اړخه هم د عدم تحفظ شکار دی، د قانون د اړخه څنگه؟ وائی جی دلته یو قانون دے چې د هغې تحت چا د جناب محمد الرسول الله صلی الله علیه وسلم توهین وکړو نو هغه ته به سزائے موت ملاویږی، (c) 295 او (c) 298 دفعات دی او بیا هغه موضوع زیر بحث راوستلې شوله او بیا چې کله دا د چرچ حمله وشوله، په دویمه ورځ په قامی اسمبلئ کښې د پاکستان تحریک انصاف مشر جناب جاوید هاشمی صاحب بیا دا مسئله وچهیړله چې جی توهین رسالت چې کوم قانون دے، د هغې خلاف چې کوم د سزا عمل دے، په دیکښې د ترمیم وکړلے شی، دا د اقلیتو خلاف استعمالیږی، دا Misuse کیږی، زه ډیر په افسوس سره دا خبره کوم جناب سپکر صاحب، وائی وهم د کوم ځائې، په پښتو کښې هغه متل دے، "وهم د کوم ځائې او ډب د کوم ځائې خیژی؟" ذمه داری د کومه ده؟ پکار دا ده چې د خپلې خیبر پختونخوا هغه خپله کارکردگی خلقو ته مخې کړی نو د هغې په ځائې باندې داسې قسم مسائل چهیړی۔ جناب سپیکر صاحب، زه یو خبره کوم، دا زمونږ د ایمان مسئله ده، دا د نظریې مسئله ده، دا د سیاست خبره نه ده، د پارټئ نه بالاتر بحیثیت د یو مسلمان لکه څرنگې چې په الله رب العالمین باندې ایمان ضروری دے، دغه رنگې په جناب محمد الرسول الله ﷺ باندې ایمان او بیا د ختم نبوت عقیده دا یو بنیادی څیز دے د مومن او د مسلمان د پاره او بیا د مسلمان د پاره د نبی علیه الصلواة والسلام محبت د هر

ځیز نه لویه سرمایه ده۔ په دغه ملک کښې که جناب قائدا عظم محمد علی جناح صاحب، د هغه توهین جرم سمجهاویږی او د نورو مقدسو هستو توهین جرم سمجهاویږی او یو سړے د خپلې پارټۍ د لیډر توهین نشی برداشت کولے نو په دغې وطن کښې به د جناب محمد الرسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم توهین څنګه برداشت کړلے شی؟ او په هغې باندې به سزائے موت څنګه نه ورکړلے کیږی؟ (تالیاں) او بیا جناب سپیکر صاحب، دا د شریعت مسئله ده، صحابه کرامؓ د ټولو نه وړومبنۍ اجماع او اتفاق چې په کوم شرعی مسئله کړے دے، هغه دا مسئله وه چې چا هم د دواړو جهانو د سردار مبارک نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم توهین وکړو، هغه ته د سزائے موت ورکړلے شی او د اسامه ابن زیدؓ په سرکردګئ کښې چې کوم جهادی لښکر ابوبکر صدیق رضی اللّٰه عنه لیږلے وو، 700 محافظان صحابه کرامؓ په هغې کښې شهیدان شوی دی صرف او صرف د دې د پاره چې کوم سړی د دواړو جهانو د سردار مبارک توهین کړے دے، د هغه سړی د مقابله وکړلې شی او هغه ته سزا ورکړلې شی۔ بیا داسې مسئله ولې دلته موضوع بحث جوړیږی، متنازعه ولې جوړیږی؟ دا د یو ډیر لوئې سوچې سمجهی سازش تحت چونکه دا قانون د مغرب په سترګو کښې نه ځائیږی، په هر دور کښې د مغرب پیروکار خلق هغه په دغه قانون باندې ګوتې پورته کوی حالانکه په مغرب کښې دا قانون چې پاکستان کښې دلته موجود دے، دا په برطانیه کښې هم موجود دے خو په برطانیه کښې د مقدسې هستۍ تعریف دا د بل چا د پاره شوے دے د جناب محمد الرسول اللّٰه ﷺ په ځائې باندې۔ د هر کس د پاره د هغه مذهبی مشر دا مقدسه هستی ده او بیا د اقوام متحده جناب سپیکر صاحب چې کوم 'چارټر آف بیسک هیومن رائټس' دے، د هغې مطابق د هیچا دل آزاری کول، د هیچا زړه ته تکلیف رسول چې کوم دے نو دا حق نه دے حاصل، د هر چا د زړه قدر او احترام کول، د هغه د احساساتو او د جذباتو دا د هر انسان بنیادی حق دے-----

جناب ڈپٹی سپیکر: مفتی صاحب! مختصر کولو کوشش وکړئ او ایجنډې طرف ته تاسو لږ راشئ نو ډیره به ښه وی۔

مولانا مفتی فضل غفور: لهذا جناب سپیکر! دا یو انتهائی اهمه مسئله ده نو دا د اقوام متحده د بنیادی انسانی حقوقو حصه ده۔ ایک ارب، سوا ارب مسلمانانو دل آزاری دا به څه رنګې د بین الاقوامی قوانینو تحت دا به Allowed وی ؟ او آیا کوم خلق چې ناموس رسالت ﷺ کښې د توهین خلاف چې کومه سزا ده، هغې کښې ترمیم وکړی؟ آیا د پاکستان نه ډنمارک جوړول غواړی چې بیا د یو سړے رالګی او په اخبار کښې د کارټون جوړوی د جناب محمد رسول الله ﷺ په خلاف کښې، چې هغې له پګړئ اووهی او دننه پکښې بم کیږدی او لاندې ورته ولیکی چې The great terrorist of the world، نو د څومره مسلمانانو د زړونو دل آزاری په دې سره وشوله او بیا جناب سپیکر، امریکه کښې فلم جوړ شو، آیا هغه ماحول دلته په پاکستان کښې جوړول غواړی دا خلق؟ نوم ئے ورله کیښودو The Innocence of Muslims، اول ئے ورله نوم ایښې وو The Innocence of Usama، بیا وروستو ئے ورله نوم کیښودو The innocence of Muslims او په هغې کښې د جناب محمد رسول الله ﷺ دومره توهین چې د هغوی کردار، د هغوی شخصیت، د هغې د ټولو خلاصه دا وه، استغفرالله العظیم، زه هغه الفاظ دلته نشم وئیلې چې ګویا که نبی علیه السلام مبارک یو Sexy او یو خواهش پرسته او جنس پرسته انسان وو استغفرالله العظیم، آیا د پاکستان دننه دغه ماحول جوړول غواړی؟ مونږ د دې بهرپور مذمت کوؤ او مونږ وایو چې کومو خلقو که د خپلې تبدیلئ معنیٰ دا لرله چې مونږ به دلته داسې قسم قوانینو کښې ترامیم راولو، دا سوال نشی پیدا کیدلے، دا د اسمبلئ درو دیوار د په دې باندې ګواه شی، دا د الله زمکه او آسمان د په دې باندې ګواه شی چې تر کومې پورې په دغه خاوره باندې یو مسلمان هم ژوندے وی، د الله په فضل و کرم سره په دغه قوانینو کښې هیڅوک ترمیم نه شی کولے۔ (تالیاں) لهذا نان ایشوز کښې د ملوث کیدلو په ځائې باندې ایشوز طرف ته راتلل غواړی۔ په دغه خاوره باندې مونږ امن غواړو او مونږ د امن و امان په حواله باندې، مونږ د امن و امان په حواله باندې۔۔۔۔۔

(شور)

وزیرِ صحت: جناب سپیکر!

مولانا مفتی فضل غفور: ستا سو په خبرو کښې زه نه یم پاڅیدلې جناب شوکت یوسفزئی صاحب! کښینئ جی تشریف کیږدوئ، مونږ د امن و امان په حواله باندې جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔

جنابِ ڈپٹی سپیکر: مفتی صاحب! مفتی صاحب اختصار سے کام لیں، بہت لوگ ہیں، اب وقت۔۔۔۔۔

مولانا مفتی فضل غفور: ٹھیک شوہ جی۔ مونږ د امن و امان په حواله باندې، مونږ د امن و امان په حواله باندې د دغې حکومت سره هر قسم تعاون ته تیار یو چې کوم قدم دوئ پورته کوی، ان شاء الله مونږ به ترینه مخکښې یو او زما تجویز دا دے چې په دیکښې د علماء، مذهبی مشران، سکالران هم په مینځ کښې کښینولی شی۔ د دغې ستونزو، د دغې مشکلاتو د حل د پاره د قانون ماهرین د پکښې کښینول شی په مینځ کښې او چې کوم د دغې خلقو مطالبات دی، هغه مطالبات د واؤریدلی شی Even که دا مطالبه کوی چې په دغه ملک کښې د شریعت نافذ شی، کومه گناه ده؟ دا د آئین پاکستان تقاضا ده، دا د دغې ملک نظریه او اساس دے، پکار دا ده چې د هغوی دغه مطالبه تسلیم کړلې شی او هغوی هم د آئین او د قانون دائرې ته راوستلی شی۔ وآخِرُ الدَعوَانا أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ۔

جنابِ ڈپٹی سپیکر: جناب شاہ فرمان صاحب، پلیز۔ شاہ فرمان صاحب۔

جناب شاہ فرمان (اطلاعات): جناب سپیکر! یہاں پر۔۔۔۔۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: دوا ړه پاڅئ تاسو۔

وزیرِ اطلاعات: منور خان صاحب! یو کافی دے تاسو له۔ جناب سپیکر، ایجنڈے سے ہٹ کر جو بات کی گئی ہے، پچھلے تین مہینے کے اندر پاکستان تحریک انصاف کے اوپر جو الزامات لگائے جارہے ہیں اور Practically مذہبی مسئلے میں الجھانے کی جو کوشش کی جارہی ہے، ہمارے ایڈوکیٹ جنرل پر الزام لگایا گیا کہ یہ قادیانی ہے، ہم نے مفتی سے پوچھا کہ کیا طریقہ کار ہے؟ جواب آیا Publically کہہ دے، ایک پریس بریفنگ کے دوران انہوں نے کہا کہ میں مسلمان ہوں، سنی مسلمان ہوں اور حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم کو آخری پیغمبر مانتا ہوں۔ اس کے بعد پندرہ تاریخ کو نشتر ہال کے اندر ختم نبوت کانفرنس تھی، ایڈوکیٹ

جنرل جاتا ہے اور ادھر اپنی صفائی پیش کرتا ہے۔ یہ ایک دفعہ کی بات نہیں ہے، قومی اسمبلی میں جس بحث کی بات کی گئی ہے، پتہ چلایا جائے کہ یہ بحث اوپن کس نے کی ہے، اس پر بحث کس نے شروع کی ہے؟ یاد رہے کہ اگر کوئی یہ کہے کہ عورت کی حکمرانی حرام ہے، یہ اسلام کہتا ہے اور پھر مراعات لیتے ہیں اس عورت سے، (تالیاں) تحریک انصاف انڈر پریشر آکر ایسے لوگوں کو کہیں مراعات نہیں دیگی، میں یہ بار بار کہتا ہوں کہ ہم عوام کے سامنے اور آپ کے سامنے جوابدہ ہیں لیکن احاطہ کیا جائے کہ کہاں تک آپ کسی کو Push کریں گے؟ ہم نہ اس پریشر میں آتے ہیں، چاہے کوئی لاکھ دفعہ کوشش کرے، عقائد اور عبادات کے نتیجے میں مسلمان کے معاملات ہوتے ہیں اور معاملات کے اوپر اگر یہ چاہیں، ایک مسلمان کے معاملات کے اوپر یہ چاہیں تو بحیثیت پشتون طلاق اور بحیثیت مسلمان قرآن سامنے رکھنا ہے کہ کس نے کرپشن کی ہے اور کس نے نہیں کی ہے؟ (تالیاں) میں کیسا مسلمان ہوں؟ ہمارے ساتھ یہ گیم نہ کھیلا جائے، اس حد تک نہ بڑھایا جائے اور اگر جاوید ہاشمی نے غلط بات کی ہے تو مقدمہ چلائیں ان کے اوپر، اگر اس نے اسمبلی میں غلط بات کی ہے لیکن خدا کیلئے اسلام کے ٹھیکیدار نہ بنو، ہم مسلمان ہیں، ہر کسی کو اپنے اندر کا پتہ ہے، ایسے Sensitive معاملات کے اوپر بات ہو گی تو ہم نہ پریشر میں آئیں گے اور اگر کوئی کہہ دے کہ یہ یہودی ہے، تو جس عورت کا کہا تھا، اللہ بخشے، کہ اس کی حکمرانی حرام ہے، اس حرام حکمران سے مراعات لی گئی ہیں، ایسا اسلام ہمیں نہیں قبول، اگر وہ اسلام کو استعمال کرکے مراعات لیتے ہیں۔ (تالیاں) میں اپوزیشن سے درخواست کرتا ہوں کہ وہ ہمیں اتنا Push نہ کریں، اتنا Push نہ کریں کہ ہم مجبور ہو جائیں ان کے جوابات دینے پر جس سے اس ایوان کے اندر وہ مزہ نہیں رہے گا جو رہنا چاہیئے۔ بعض تقاریر سے معزز اراکین کے علاوہ اس ایوان کا بھی استحقاق مجروح ہو جاتا ہے، میں امید کرتا ہوں، میں اب بھی یہ کہتا ہوں کہ یہ Government answerable ہے اس اپوزیشن کو، عوام کے سامنے بھی اور آپ کے سامنے بھی ہے اور آپ کو بھی یہ حق دیا ہے The right to information اور عوام کو بھی دیا ہے اور یہ گورنمنٹ آگے سے کچھ بھی پوچھے، کچھ بھی کہے، یہ آپ کے سامنے جوابدہ ہے لیکن میں درخواست کرتا ہوں کہ اس صوبے میں جو ہمارا ماحول ہے، جو ہمارے Customs ہیں، جو ہماری Traditions ہیں، جو

ہماری روایات ہیں، اگر اس کے مطابق ہم Politics کریں تو میرے خیال میں اس ماحول کا مزہ رہے گا۔ شکریہ، جناب سپیکر۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ملک نور سلیم خان، ملک نور سلیم خان، پلیز۔ ملک نور سلیم خان، پلیز۔

